CEDAW
On the Occasion of 8 March 2002

# کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

## مصوب ۱۸ دسامبر ۱۹۷۹

## مجمع عمومی سازمان ملل متحد

از انتشارات مرکز تعاون افغانستان (متا)

# کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

مصوب ۱۸ دسامبر ۱۹۷۹

**مجمع عمومی سازمان ملل متحد**

PROPERTY OF
ACKU
13661

از انتشارات مرکز تعاون افغانستان (متا)

**مشخصات کتاب:**

**نام کتاب: کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان**

**ناشر: بنیاد انتشارات جیهانی**

**سال چاپ: مارچ ۲۰۰۲**

چاپ و کمپیوتر: مرکز خدمات کمپیوتر و چاپ نصیر، ۱۲۴ گل حاجی پلازه

تیلفون: ۴۳۸۶۱، ۸۵۳۸۶۱

**این رساله به کمک مالی SDG چاپ شده است**

PROPERTY OF ACKU
13661

# کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان
# مصوب ۱۸ دسامبر ۱۹۷۹
# مجمع عمومی سازمان ملل متحد

دول عضو کنوانسیون حاضر، با عنایت به این که منشور سازمان ملل متحد بر حقوق اساسی بشر، مقام و منزلت هر فرد و برابری حقوق زن و مرد تأکید مجدد دارد، با اعتقاد بر این که اعلامیهء جهانی حقوق بشر بر اصل جایز نبودن تبعیض تأکید دارد و اعلام میدارد که کلیه افراد بشر آزاد بدنیا آمده و از نظر مقام و منزلت و حقوق یکسان بوده و مجاز به استفاده از کلیه حقوق و آزادیها بدون هیچ گونه تمایزی از جمله جنسیت میباشند، با تأکید بر این که دول عضو میثاقهای بین المللی حقوق بشر متعهد میباشند تا زنان و مردان از حقوق اساسی، اجتماعی، فرهنگی، مدنی وسیاسی برخوردار گردند، با در نظر گرفتن این که کنوانسیونهای بین المللی که تحت نظر سازمان ملل متحد و آژانسهای تخصصی منعقد گردیده موجب استیفاء حقوق زن و مرد گردیده، با توجه به این که به

موجب قطعنامه ها، اعلامیه ها و توصیه های سازمان ملل متحد و آژانسهای تخصصی برابری حقوق زن و مرد ارتقاء بخشیده شده، با نگرانی از این که علیرغم صدور اسناد مختلف، اعمال تبعیضات علیه زنان بطور گسترده یی همچنان ادامه دارد.

با یاد آوری این که اعمال تبعیضات علیه زنان ناقض اصول برابری حقوق و احترام به شخصیت بشر میباشد، و مانع شرکت زنان در شرایط مساوی با مردان در زنده گی سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی به کشور خود میشوند، و از کامیابی و موفقیت جامعه و خانواده ممانعت مینماید، و تحول کامل استعدادهای زنان را در خدمت در کشور و بشریت مشکل تر میسازد، بانگرانی از این که زنان در شرایط فقر و تنگدستی حد اقل دسترسی را به مواد غذایی، بهداشتی، تحصیلات، دوره‌ء آموزشی و امکانات استخدامی وسایر نیازها دارند.

با اعتقاد به این که تشکیل نظام نوین اقتصاد بین المللی بر اساس مساوات و عدالت در استیفاء برابری بین مردان و زنان نقش مهمی را ایفاء مینماید، با تأکید بر این که ریشه کن کردن آپارتاید، اشکال مختلف نژاد پرستی، تبعیض نژادی، استعمار، استعمار نو، تجاوز، اشغال، سلطه و دخالت خارجی در امور داخلی دولتها رکن اساسی برخورداری مردان و زنان از حقوق خود میباشد، با تأکید بر این که تحکیم صلح و امنیت بین المللی تشنج زدایی بین المللی، همکاریهای دوجانبه‌ء دول صرفنظر از سیستمهای اجتماعی و اقتصادی آنها، خلع سلاح عمومی و کامل و بالاخص خلع سلاح اتومی تحت نظارت و کنترول شدید و مؤثر بین المللی، تأیید اصول عدالت، مساوات و منافع متقابل در روابط بین کشورها واحقاق حق مردم تحت سلطه‌ء استعمار و

بیگانه و اشغال خارجی در مقابل خود مختاری و استقلال و همچنین احترام به حق حاکمیت ملی و تمامیت ارضی باعث رشد و پیشرفت اجتماعی خواهد شد، و در نتیجه باعث ایجاد مساوات بین مردان و زنان میگردد، با اعتقاد بر این که رشد تمام و کامل یك کشور، رفاه جهانی و بر قراری صلح مستلزم شرکت یکپارچهء زنان در تمام زمینه ها در شرایط مساوی با مردان است.

با در نظر گرفتن سهم عمده زنان در ایجاد رفاه خانواده و پیشرفت جامعه که تاکنون کاملاً شناخته نشده است، اهمیت اجتماعی مادر و نقش والدین در خانواده و در تربیت کودکان، و با آگاهی از این که نقش زنان در زایمان نباید اساس تبعیض باشد و تربیت کودکان نیازمند تقسیم مسؤولیت بین زن و مرد و جامعه بطور کلی میباشد.

با اطلاع از این که هر گونه تغییری در نقش معمولی مردان و همچنین زنان در جامعه و خانواده مستلزم وجود حقوق مساوی بین زن و مرد میباشد.

تضمیم گرفتند اصول مربوط به اعلامیهء رفع تبعیضات علیه زنان را به مورد اجرا گزارده و بدین منظور اقداماتی را جهت از میان برداشتن کلیه اشکال و انواع آن اتخاذ نموده اند و...

بشرح زیر توافق کرده اند:

## مادهء ۱ :

واژهء «تبعیضات علیه زنان» در این کنوانسیون به معنی قایل شدن هر گونه وجه تمایز، قایل شدن استثناء یا محدودیتی بر اساس جنسیت است که به رسمیت شناختن آزادیهای اساسی زنان، حق بهره وری و رعایت حقوق بشر در مورد آنها در زمینه های سیاسی و اقتصادی و

اجتماعی و فرهنگی و مدنی یا سایر موارد بدون توجه به وضعیت تأهل آنها و مساوات حقوق زن و مرد خلل و آسیب وارد آورد.

**مادهء ۲:**

دولت عضو تبعیضات علیه زنان را به هر شکلی محکوم کرده و موافقت مینماید بدون درنگ و به طرق مقتضی سیاست رفع تبعیضات علیه زنان در پیش گرفته شود، و بدین منظور در مورد مسایل زیر تعهد مینمایند:

الف: گنجاندن اصل مساوات زن و مرد در قانون اساسی یا سایر قوانین مربوط هر کشور چنانچه تاکنون منظور نشده باشد، وصول اطمینان از تحقق چنین اصلی بوسیلهء وضع قانون یا سایر طرق مقتضی دیگر.

ب: اتخاذ تدابیر قانون و غیره از آن جمله اعمال تحریم در صورت اقتضاء به منظور جلوگیری از بکار بردن تبعیضات علیه زنان.

ج: حمایت قانونی از حقوق زنان بر اساس شرایط مساوی با مردان و حصول اطمینان از حمایت مؤثر از زنان علیه تبعیضات از طریق مراجع ملی ذیصلاح و سایر مؤسسات قضایی دولتی.

د: خود داری از انجام هر گونه عملی علیه زنان و یا بکار بردن تبعیضات در مورد آنها و حصول اطمینان از این که مقامات دولتی و مؤسسات مطابق با تعهدات خود به وظایف شان عمل خواهند کرد.

هـ: اتخاذ اقدامات مقتضی به منظور رفع تبعیضات علیه زنان توسط هر فرد، سازمان یا شرکت.

اتخاذ تدابیر لازم از جمله وضع قوانین به منظور جرح و تعدیل یا فسخ قوانین متعارف و مقررات موجود که موجب بکار بردن تبعیض علیه زنان میگردد.

ز: فسخ کلیه مقررات کیفری یا جزایی که تبعیضات علیه زنان را در بر دارد.

**مادهء ۳:**

دول عضو در تمام زمینه ها بالاخص زمینه های سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی کلیه اقدامات لازم از جمله وضع قوانین را به منظور رشد و پیشرفت کامل زنان به عمل می آورند، تا اجرای حقوق بشر و بهره مندی آنها از آزادیهای اساسی بر مبنای مساوات با مردان تضمین گردد.

**مادهء ۴:**

۱- اتخاذ تدابیر ویژهء موقتی توسط دول عضو که هدف آن تسریع دو فاکتور مساوات بین مردان و زنان میباشد، بنا به تعریف این کنوانسیون نباید «تبعیض» تلقی گردد. اما به هیچ وجه حفظ استاندارد های جدا و نابرابر را به عنوان یك پیامد در بر نخواهد داشت. این اقدامات پس از تحقق رفتار و فرصتهای برابر متوقف خواهد شد.

۲- اتخاذ تدابیر ویژه توسط دول عضو از جمله اقداماتی هستند که در این کنوانسیون برای حمایت از مادران صورت میگیرد و نباید تبعیض آمیز تلقی گردند.

**مادهء ۵:**

دول عضو اقدامات مقتضی زیر را بعمل می آورند:

الف: تغییر الگوهای اجتماعی و فرهنگی رفتار مردان و زنان به منظور از میان برداشتن تعصبات، سنتها و روشهایی که مبتنی بر آرمان طرز فکر پست نگری یا برترنگری جنسیت و یا نقشهای کلیشه یی برای مردان و زنان میباشد.

ب: حصول اطمینان ازاین که تربیت خانواده، درك صحیح از وظیفهء اجتماعی مادر و شناسایی مسؤولیت مشترك مرد و زن در پرورش و تربیت کودکان را شامل میگردد، منافع کودکان در تمام موارد در اولویت قرار دارد.

## مادهء ۶:

دول عضو کلیه اقدامات مقتضی از جمله وضع قوانین را به منظور جلوگیری از سؤ استفاده از زنان و استثمار آنان بعمل خواهند آورد.

## مادهء ۷:

دول عضو به منظور رفع تبعیضات علیه زنان در زنده گی سیاسی و اجتماعی کشور کلیه اقدامات مقتضی را به عمل خواهند آورد. بالاخص در شرایط مساوی با مردان حقوق زیر را به زنان اعطا خواهند کرد:

الف: حق شرکت در کلیه انتخابات و همه پرسیهای عمومی و واجد صلاحیت بودن برای انتخاب شدن در تمام ارگانهای منتخب مردمی.

ب: حق شرکت در تعیین سیاست دولت و اجرای آن و دایر نمودن دوایر دولتی و انجام کلیه وظایف عمومی در تمام سطوح دولت.

ج: حق شرکت در سازمانها و انجمنهای غیر دولتی که با زنده گی سیاسی و اجتماعی کشور در ارتباط باشد.

## مادهء ۸:

دول عضو اقدامات مقتضی را بعمل خواهند آورد تا بدون هیچ گونه تبعیض در شرایط مساوی با مردان این فرصت به زنان داده شود که دولت خود را در سطح بین المللی معرفی نمایند و در سازمانهای بین المللی نقشی داشته باشند.

## مادهء ۹:

۱- دول عضو به زنان حقوق مساوی با مردان در مورد کسب، تغییر یا حفظ ملیت آنان عطا خواهند کرد، ممالك عضو بالاخص تضمین میکنند، که با ازدواج با فرد خارجی و تغییر ملیت همسر در طی دوران ازدواج بطور خود به خود باعث تغییر ملیت زن، بین وطنی شدن یا تحمیل اجباری ملیت شوهر نمیگردد.

۲- دولت عضو در مورد ملیت کودکان به زنان حقوق مساوی با مردان اعطا خواهند کرد.

## مادهء ۱۰:

دول عضو کلیه اقدامات مقتضی را به عمل خواهند آورد. تا به منظور رفع تبعیضات علیه زنان حقوق مساوی با مردان به آنان در زمینهء آموزش و پرورش و بالاخص بر اساس مساوات بین زن و مرد در موارد زیر اعطا گردد:

الف: امکانات و شرایط مساوی با مردان در زمینهء شغلی و حرفه یی و در جهت اخذ مدارك تحصیلی از مؤسسات آموزشی در کلیه رشته ها چه در شهر و چه در روستا، این تساوی شامل دوره های پیش دبستانی، آموزش عمومی، فنی، حرفه یی و

آموزش عالی فنی و نیز دوره های حرفه یی مختلف میباشد.

ب: امکان دسترسی به برنامه های آموزشی، امتحانات و کادر آموزشی مشابه که مشخصات و استانداردهای مشابه را دارا باشند، و ساختمان و لوازم مدرسه همان کیفیت را داشته باشند.

ج: از بین بردن هر گونه مفهوم کلیشه یی از نقش زنان و مردان در کلیه سطوح و در اشکال مختلف آموزشی از طریق تشویق به آموزش مختلط وسایر انواع روشهای آموزشی که نیل به این هدف را ممکن میسازد، و بالاخص از طریق تجدید نظر در کتب درسی و برنامه های آموزشی مدارس و تأیید روشهای آموزشی.

د: امکانات استفاده از بورسها و سایر مزایای تحصیلی مشابه.

هـ: امکانات مشابه جهت دستیابی به برنامه های مربوط به ادامهٔ تحصیلات، از جمله برنامه های عملی سواد آموزی بزرگسالان بخصوص برنامه هایی که به هدف کاهش هر چه سریعتر شکاف آموزشی موجود بین زنان و مردان میباشد.

و: کاهش تعداد دانش آموزان دختری که ترک تحصیل میکنند و تنظیم برنامه هایی برای دختران و زنانی که قبلاً ترک تحصیل کرده اند.

ز: امکانات مشابه برای شرکت فعال زنان در امور ورزشی وتربیت بدنی.

ح: دسترسی به اطلاعات آموزشی ویژه که سلامتی و تندرستی خانواده را تضمین مینمایند، از جمله اطلاعات و پیشنهاداتی در مورد برنامه ریزی خانواده.

**ماده ۱۱:**

۱- دول عضو کلیه اقدامات مقتضی را بعمل خواهند آورد تا هر گونه تبعیض علیه زنان در زمینهء شغلی از بین برود، و بر اساس اصل تساوی حقوق بین زنان و مردان، حقوق مشابه برای آنها تضمین شود بالاخص در موارد زیر:

الف: حق اشتغال بکار بعنوان حق لابتجزای افراد بشر.

ب: حق استفاده از امکانات مشابه شغلی، از جمله رعایت ضوابط یکسان در مورد انتخاب شغل.

ج: حق انتخاب آزادانهء حرفه و پیشه، حق ارتقاء مقام، بر خورداری از امنیت شغلی و تمام امتیازات و شرایط شغلی و حق استفاده از دوره های آموزش حرفه یی و باز آموزی، از جمله کار آموزی و شرکت در دوره های آموزش حرفه یی پیشرفته و آموزش مرحله یی.

د: حق در یافت دستمزد برابر و نیز استفاده از مزایا و حق بر خورداری از رفتار یکسان در مشاغلی که دارای ارزش برابر است، و همچنین قضاوت یکسان در ارزیابی کار مشابه.

هـ: حق استفاده از بیمه های اجتماعی بالاخص در دوران باز نشسته گی، دوران بیکاری، هنگام بیماری و ناتوانی و دوران پیری و در سایر موارد از کار افتاده گی و نیز حق استفاده از مرخصی استحقاقی.

و) حق رعایت اصول بهداشتی برای حفظ سلامتی و رعایت ایمنی در محیط کار، بطوری که تندرستی آنها در دوران بارداری تضمین شود، و آسیبی به سلامت آنها وارد نگردد.

۲- به منظور جلوگیری از اعمال تبعیضات علیه زنان بهنگام ازدواج و بار داری و تضمین حق مسلم آنان جهت کار، دول عضو اقدامات زیر را بعمل خواهند آورد:

الف: ممنوعیت اخراج در دلیل بار داری یا مرخصی زایمان و تبعیض در اخراج بر اساس وضعیت زنا شویی که در غیر اینصورت مشمول تحمیل مجازات میشود.

ب: صدور اجازه مرخصی زایمان با حقوق یا مزایای اجتماعی مشابه بدون از دست رفتن شغل قبلی سمت یا مزایای اجتماعی،

ج: تشویق به ارایهء خدمات اجتماعی لازم بنحوی که والدین را قادر نماید تعهدات خانواده گی را با مسؤولیتهای شغلی همآهنگ سازند، و به خصوص با فراهم آوردن تسهیلاتی برای مراقبت از کودکان بتوانند در زنده گی اجتماعی شرکت نمایند.

د: حمایت خاص از زنان هنگام بار داری در مشاغلی که به اثبات رسیده برای آنها زیان آور است.

۳- قوانین حمایت کنندهء متذکر در این ماده بطور متناوب همراه با پیشرفت اطلاعات و دانشهای علمی و تکنولوژیکی مورد بررسی قرار خواهند گرفت، و در صورت لزوم این قوانین تجدید چاپ، لغو یا تمدید خواهند گردید.

**مادهء۱۲:**

۱- دول عضو کلیه اقدامات لازم را در مورد رفع تبعیضات علیه زنان در زمینهء حفظ سلامتی آنان بعمل خواهند آورد، تا دسترسی به خدمات بهداشتی از جمله خدماتی که به برنامه ریزی خانواده مربوط میشود، بر اساس رعایت مساوات بین مردان و

زنان امکان پذیر باشد.

۲- دول عضو علاوه بر مفاد پاراگراف یك این ماده خدمات لازم را در دوران بارداری، هنگام زایمان و دوران پس از زایمان ارایه خواهند کرد، در صورت لزوم خدمات رایگان در اختیار آنها خواهند گذارد، و نیز آنها را از تغذیهء مناسب در دوران بار داری و دوران شیر دهی بهره مند خواهند ساخت.

**ماده‌ء ۱۳:**

۱- دول عضو کلیه اقدامات مقتضی را به منظور رفع تبعیضات علیه زنان در سایر زمینه های زنده گی اقتصادی و اجتماعی بعمل خواهند آورد، تا براساس اصل برخورداری از حقوق مساوی و یکسان مردان و زنان بالاخص موارد زیر رعایت گردند:

الف: حق استفاده از مزایای خانواده گی.

ب: حق استفاده از وامهای بانکی، رهن وسایر اشکال اعتبارات مالی.

ج: حق شرکت در فعالیتهای تفریحی، رشته های مختلف ورزشی و کلیه زمینه های زنده گی فرهنگی.

**ماده‌ء ۱۴:**

۱- دول عضو مشکلات خاص زنان روستایی را مدنظر قرار داده و به نقش مهمی که این زنان در جهت رفاه اقتصادی خانواده های خود از جمله کار در بخشهای غیر مالی اقتصاد بعهده دارند توجه خاص مبذول خواهند داشت و کلیه اقدامات مقتضی را

بعمل خواهند آورد، تامفاد این کنوانسیون در مورد زنان روستایی اجراء گردد.

۲- دول عضو کلیه اقدامات مقتضی جهت رفع تبعیضات علیه زنان روستایی را بعمل خواهند آورد، تا این زنان بر اساس تساوی حقوق مردان و زنان در برنامه های عمرانی و روستایی شرکت کنند، و از آن بهره مند گردند، و به خصوص از حقوق زیر بر خوردار شوند:

الف: شرکت در اجراء و تکمیل برنامه های عمرانی در کلیه سطوح،

ب: دسترسی به تسهیلات بهداشتی کافی از جمله اطلاعات، مشاوره وخدمات در برنامه ریزی خانواده،

ج: استفاده ء مستقیم از برنامه های بیمه ء اجتماعی،

د: استفاده از کلیه دوره ها و برنامه های آموزشی رسمی و غیر رسمی از جمله سواد آموزی عملی و نیز بهره مندی از خدمات و امکانات به منظور بالابردن کارآیی فنی آنان،

هـ: تشکیل گروهها و تعاونیهای انتفاعی به منظور دسترسی یکسان به امکانات اقتصادی یعنی دسترسی به مشاغل دولتی و آزاد،

و: شرکت در کلیه فعالیتهای جامعه،

ز: دسترسی به وامها و اعتبارات کشاورزی، تسهیلات بازاریابی، تکنولوژی مناسب و استفاده ء یکسان از زمین و اصلاحات ارضی و طرحهای اسکان مجدد زمین،

ح: بهره مند شدن از وسایل مناسب زنده گی، بالاخص مسکن، وسایل بهداشتی، آب و برق، ارتباطات و حمل ونقل،

### ماده‌ء ۱۵ :

۱- دول عضو با استفاده از قانون به زنان حقوق مساوی با مردان اعطا میکنند.

۲- دول عضو در مسایل مدنی به زنان اهلیت قانونی یکسان با مردان اعطا میکنند، تا زنان با در نظر گرفتن امکانات مشابه از این اهلیت استفاده کنند، دول عضو بالاخص به زنان حقوق یکسان با مردان اعطا میکنند، تا بتوانند قرار داد منعقد نمایند، به اداره‌ء املاکشان پرداخته و در کلیه مراحل دادرسی در دادگاهها و محاکم از حقوق یکسان با مردان برخوردار شوند.

۳- دول عضو موافقت مینمایند، که کلیه قرار داد ها و سایر اسناد خصوصی دارای قدرت اجرایی قانونی و محدود کننده‌ء اهلیت قانونی زنان کان لم یکن تلقی گردد.

٤- دول عضو با در نظر گرفتن قانون نقل مکان و قانون حق انتخاب آزادانه‌ء محل اقامت و سکونت افراد حقوق برابر با مردان به زنان اعطا میکنند.

### ماده‌ء ۱۶ :

۱- دول عضو کلیه اقدامات مقتضی را به منظور رفع تبعیضات علیه زنان در زمینه‌ء مسایل مربوط به ازدواج و روابط خانواده گی بعمل خواهند آورد، تا بر اساس اصل برخورداری مردان و زنان از حقوق مساوی و یکسان موارد زیر بالاخص مراعات شده باشند:

الف: حق مشابه برای ازدواج.

ب: حق مشابه در انتخاب آزادانه‌ء همسر و صورت گرفتن ازدواج با

رضایت کامل آنان.

ج: حقوق و تعهدات مشابه در طی دوران زناشویی و پس از جدایی.

د: حقوق و مسؤولیتهای مشابه به عنوان والدین صرفنظر از وضع روابط زناشویی در مسایلی که به فرزندان آنان مربوط میشود، در کلیه موارد منافع کودکان از اولویت برخوردار است.

هـ: حقوق مشابه در مورد تصمیم گیری آزادانه و مستقلانه نسبت به تعداد فرزندان و فاصلهء زمانی بارداری و دسترسی به اطلاعات و آموزش لازمه و استفاده از مسایلی که برخورداری از چنین حقوقی را میسر سازد.

و: حقوق و مسؤولیتهای مشابه در مورد قیمومیت، حضانت، سرپرستی و فرزند خوانده گی، و یا استفاده از دستور العملهای مشابهی که به موجب قانون حقوق مزبور در آنها پیش بینی شده است. در کلیه موارد منافع کودکان از اولویت برخوردار است.

ز: حقوق فردی مشابه برای شوهر و زن منجمله حق انتخاب نام خانواده گی، حق انتخاب شغل و حرفه.

ح: حقوق مشابه برای زوجین نسبت به مالکیت، اکتساب، مدیریت، سرپرستی، بهره مندی و در اختیار داشتن ملك اعم از این که رایگان باشد و یا هزینه یی در بر داشته باشد.

۲- نامزدی و ازدواج فرزند از نظر قانون دارای قدرت اجرایی نمیباشد، و کلیه اقدامات ضروری منجمله وضع قانون برای تعیین حد اقل سن مناسب برای ازدواج باید بعمل آید، و ازدواج در دفاتر رسمی باید ثبت گردد.

ماده‌ء ۱۷ :

۱- به منظور بررسی و در نظر گرفتن پیشرفت حاصله در اجرای مفاد این کنوانسیون کمیته‌ء رفع تبعیضات علیه زنان (که از این به بعد کمیته خوانده میشود) تشکیل خواهد شد.
این کمیته از تاریخ لازم الاجراء شدن کنوانسیون از هژده عضو پس از تصدیق و الحاق سی و پنجمین دولت به کنوانسیون و بیست و سه نفر از کارشناسان دارای صلاحیت و مشهور به داشتن حسن اخلاق در زمینه‌ء مربوط به کنوانسیون تشکیل میشود ،کارشناسان توسط دولت عضو از میان اتباع کشور شان انتخاب میشوند، و در سمت شخصی خود خدمت میکنند. در انتخاب این اشخاص به توزیع جغرافیایی عادلانه و به موجودیت اشکال مختلف تمدن و نیز اصل نظامهای حقوقی توجه میشود.

۲- اعضای کمیته توسط دول عضو از طریق رأی مخفی و از میان کاندیداها انتخاب میشوند، هر دولت عضو میتواند یك نفر از اتباع خود را نامزد نماید.

۳- نخستین انتخابات شش ماه پس از اجرای این کنوانسیون برگزار خواهد شد. حد اقل سه ماه قبل از تاریخ هر انتخابات دبیر کل سازمان ملل در طی نامه یی از دول عضو میخواهد تا ظرف دو ماه کاندیدا های خود را معرفی کنند. سرمنشی فهرست اسامی کاندیدا ها و دول عضو را به ترتیب حروف الفبا تهیه و برای دول عضو ارسال خواهد داشت.

٤- انتخابات اعضای کمیته در جلسه یی متشکل از دول عضو به ریاست سرمنشی سازمان ملل و در مقر آن سازمان برگزار خواهد

شد. در این جلسه که حد نصاب تشکیل آن حضور دوسوم از نماینده گان دول عضو باشد اشخاصی انتخاب خواهند شد که بیشترین تعداد آراء و اکثریت مطلق آراء نماینده گان دول عضو حاضر در جلسه را به دست آورند.

٥- اعضای کمیته برای یك دوره‌ء چهار ساله انتخاب میشوند، اگر چه دوره‌ء عضویت ۹ نفر از اعضای منتخب در اولین انتخابات پس از دو سال به پایان میرسد اما بلافاصله پس از اولین انتخابات اسامی این ۹ نفر عضو به قید قرعه و توسط رئیس کمیته اعلام خواهد شد.

٦- انتخاب ٥ عضو دیگر کمیته مطابق با مفاد پاراگرافهای ۲، ۳ و ٤ این ماده و به دنبال سی وپنجمین تصدیق یا الحاق صورت خواهد گرفت. دوره‌ء عضویت دو نفر از اعضای فوق در پایان دو سال خاتمه خواهد یافت، و اسامی این دو نفر به قید قرعه و توسط رئیس کمیته اعلام خواهد شد.

۷- به منظور اشغال پست بلا متصدی احتمالی، دولتی که کار شناس به عنوان عضو کمیته به انجام وظیفه مشغول نمیباشد، کار شناس دیگری را با تأیید کمیته از بین اتباع خود انتخاب خواهند کرد.

۸- اعضای کمیته با تأیید مجمع عمومی و بر طبق ضوابط و شرایط مقرره‌ء آن مجمع و با در نظر گرفتن اهمیت مسؤولیتهای کمیته از سازمان ملل مقرری دریافت خواهند کرد.

۹- سرمنشی سازمان ملل متحد تسهیلات و اقدامات لازم را به منظور انجام مؤثر وظایف کمیته تحت این کنوانسیون

بعمل خواهد آورد.

**ماده‌ء ۱۸:**

۱- دول عضو متقبل میشوند گزارشی برای بررسی کمیته در مورد اقدامات تضمینی، قضایی و اجرایی و سایر اقدامات متخذه در راستای اجرای مفاد این کنوانسیون و پیشرفتهای حاصله از آن به سرمنشی سازمان ملل متحد بشرح زیر ارایه کنند:

الف: تهیه گزارش ظرف یکسال پس از لازم الاجراء شدن برای دول مربوطه.

ب: پس از آن حد اقل هر چار سال یکبار و در صورت درخواست کمیته زود تر از چهار سال.

۲- این گزارشات حاوی مسایل و مشکلاتی است که بر اجرای تعهدات و وظایف این کنوانسیون اثر میگذارد.

**ماده‌ء ۱۹:**

۱- کمیته نظامنامه داخلی خود را تصویب میکند.

۲- کمیته کارمندان خود را برای یك دوره‌ء دو ساله انتخاب میکند.

**ماده‌ء ۲۰:**

۱- کمیته به منظور بررسی گزارشاتی که مطابق با ماده‌ء ۱۸ این کنوانسیون ارایه شده هر ساله به مدتی که از دو هفته تجاوز نکند، تشکیل جلسه میدهد.

۲- جلسات کمیته عموماً در مقر سازمان ملل متحد یا در هر محل مناسب دیگری که به درخواست کمیته تعیین میشود

برگزار خواهد شد.

**ماده‌ء ۲۱:**

۱- کمیته همه ساله از طریق شورای اقتصادی و اجتماعی گزارشی در مورد فعالیتهای خود به مجمع عمومی تسلیم مینماید. و بر اساس گزارشات و اطلاعات واصله از دول عضو پیشنهادات و توصیه های کلی ارایه میدهد. این پیشنهادات و توصیه های کلی همراه با نظرات احتمالی دول عضو در گزارش کمیته درج میگردد.

۲- سرمنشی گزارشات کمیته را جهت اطلاع به کمیسیون وضعیت زنان ارسال مینماید.

**ماده‌ء ۲۲:**

آژانسهای تخصصی میتوانند در محدوده‌ء فعالیتهای خود بر اجرای مفاد این کنوانسیون نظارت کنند. کمیته میتواند از آژانسهای تخصصی دعوت کند، تا گزارشاتی در مورد نحوه‌ء اجرای کنوانسیون در زمینه هایی که به حوزه‌ء فعالیت آنها مربوط میشود ارایه نمایند.

**ماده‌ء ۲۳:**

هیچ عاملی بر مفادی که موجب دستیابی سریعتر بر اصل تساوی حقوق زن و مرد در این کنوانسیون باشد مؤثر نخواهد بود. عامل یاد شده ممکن است در موارد زیر باشد:

الف: در قانونگذاری یك دولت عضو،

ب: در هر کنوانسیون دیگر، پیمان یا قرار داد بین المللی لازم الاجراء برای آن دولت.

## ماده‌ء ۲۴:

دول عضو متعهد میگردند کلیه اقدامات لازم در سطح ملی را که هدف از آن تحقق کامل حقوقی است و در این کنوانسیون به رسمیت شناخته شده بعمل آورند.

## ماده‌ء ۲۵:

۱- این کنوانسیون برای امضای کلیه دول مفتوح میباشد.
۲- سرمنشی سازمان ملل متحد بعنوان امانتدار این کنوانسیون تعیین شده است.
۳- رسمیت این کنوانسیون منوط به تصدیق است. اسناد تصدیق نزد سرمنشی سازمان ملل متحد به امانت گذارده شده است.
٤- این کنوانسیون جهت الحاق کلیه دول مفتوح میباشد، سند الحاق به سرمنشی سازمان ملل باید سپرده شود.

## ماده‌ء ۲۶:

۱- دول عضو میتوانند در هر زمان طی برنامه یی خطاب به سرمنشی سازمان ملل در خواست کنند این کنوانسیون مورد تجدید نظر قرار گیرد.
۲- مجمع عمومی سازمان ملل متحد در مورد اقدامات احتمالی در مورد چنین درخواستی تصمیم خواهد گرفت.

## ماده‌ء ۲۷:

۱- این کنوانسیون سی روز پس از تاریخی که بیستمین سند تصدیق یا الحاقیه آن نزد سرمنشی سازمان ملل متحد به امانت گذارده شد، لازم الاجراء میگردد.

۲- پس از به ودیعه سپردن بیستمین سند تصدیق یا الحاق، برای هر دولتی که این کنوانسیون را تصدیق میکند یا به آن ملحق میگردد، کنوانسیون مذکور سی روز بعد از تاریخی که این سند تصدیق یا الحاق به امانت گذارده شده لازم الاجراء میگردد.

**ماده ۲۸:**

۱- سرمنشی سازمان ملل متحد پس از دریافت تحفظات دولتها به هنگام تصدیق یا الحاق آنها را در اختیار کلیه دول قرار میدهد.

۲- تحفظاتی که با هدف و منظور این کنوانسیون سازگار نباشد، پذیرفته نخواهد شد.

۳- هرگاه این تحفظات مورد قبول واقع شود باید به سرمنشی اعلام گردد که وی سپس مراتب را به اطلاع کلیه دول خواهد رسانید. چنین تحفظاتی به مجرد دریافت به مورد اجراء گذارده خواهد شد.

**ماده ۲۹:**

۱- هر گونه اختلاف در تفسیر یا اجرای این کنوانسیون بین دو دولت یا اعضای بیشتر که از طریق مذاکره حل نگردد، بنا به تقاضای یکی از طرفین به حکمیت ارجاع میگردد، اگر چنانچه ظرف شش ماه از تاریخ درخواست تشکیل داوری، طرفین در مورد تشکیل آن به توافق نرسند یکی از طرفین میتواند درخواست نماید تا موضوع به دیوان بین المللی دادگستری مطابق با اساسنامه دادگاه ارجاع گردد.

۲- هر دولت عضو میتواند به هنگام امضاء یا تصدیق این

کنوانسیون یا الحاق به آن اعلام کند که خود را مؤظف به اجرای پاراگراف یك این ماده نمیداند. سایر دول عضو با توجه به تحفظات هر دولت عضو در این مورد ملزم به رعایت پاراگراف فوق نمیباشند.

۳- هر دولت عضوی که بر طبق پاراگراف ۲ این ماده تحفظاتی انجام داده باشد، میتواند در هر زمان سرمنشی سازمان ملل اعلام نماید، که از این تحفظات صرفنظر کرده است.

**مادهء ۳۰:**

این کنوانسیون که متون عربی، چینی، انگلیسی، فرانسوی، روسی، واسپانوی آن دارای اعتبار یکسان میباشند، نزد سرمنشی سازمان ملل متحد به امانت گذارده میشود.

PROPERTY OF ACKU 13661

PROPERTY OF ACKU

# دښځو په وړاندې دټولو تبعيضونو دله منځه وړلو کنوانسيون

## د۱۹۷۹ د دسمبر په ۱۸

## دملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې تصويب شوی

دمرکز تعاون افغانستان (متا) له خپرونو څخه

**کتاب پېژندنه**:

نوم: دښځو په وړاندې دټولو تبعیضونو دله منځه وړلو کنوانسیون

خپرندوی: جیهاني خپرندوی مرکز

چاپنېټه: مارچ ۲۰۰۲

چاپ و کمپیوتر: مرکز خدمات کمپیوتر و چاپ نصیر، ۱۲۴ گل حاجی پلازه

تیلفون: ۴۳۸۶۱، ۸۵۳۸۶۱

داکتابکوټی د SDG په مالي مرسته چاپ شوی دی

# دښځو په وړاندې دټولو تبعیضونو دله منځه وړلو کنوانسیون

## د ۱۹۷۹ ددسمبر په ۱۸

## د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې تصویب شوی

غړي دولتونه د اوسني کنوانسیون دې ته په کتنه او پاملرنه چې د ملګروملتونو سازمان منشور د بشر د اساسي حقوقو، دهر فرد مقام او منزلت او دښځو او نارینه و دحقوقو په برابرۍ کلک ټینګار او تأکید کوي او په دې عقیده چې د بشرو حقوقو نړیواله اعلامیه د تبعیض په نشتوالي او ناجایز والي باندې ټینګار کوي او اعلانوي چې دبشر ټول افراد آزاد نړۍ ته راغلي دي. دمقام، منزلت او حقوقو له مخې برابر دي او له هر ډول توپیره، دهغې له جملې نه د جنسیت له تو پیر څخه پرته له ټولو حقوقو او آزادیو څخه د استفادې حق لري او په دې باندې په ټینګار او تأکید سره چې د بشر د حقوقو دنړیوالو تړونو نو غړي

دولتونه متعهد او ژمنه کوونکي دي چې ښځې او نارینه له اساسي ټولنیزو، فرهنګي، مدني او سیاسي حقوقو څخه برخمن شي. دې ته په پاملرنه چې نړیوال کنوانسیونونه چې د ملګرو ملتونو د سازمان او تخصصي آژانسونو تر نظر لاندې جوړ شوي دښځو او نارینه وُ دحقوقو د استیفأ، راژوندي کولو او پوښتلو سبب ګرځیدلي دي، او دې ته په پاملرنه چې د ملګرو ملتونو او تخصصي آژانسونو د پریکړه لیکونو، اعلامیو او توصیو په سبب د ښځو او نارینه وُ دحقوقو برابرۍ ته لوړتیا او پرمختیا ورکړې ده. او دې ته هم په کتنه چې د بیلابیلو اسنادو له صادریدو سره سره بیا هم د ښځو په وړاندې د تبعیضونو اعمال هماغسې په پراخه پیمانه دوام لري.

ددې ټکي یادونه چې دښځو په وړاندې تبعیضونه د حقوقو د برابرۍ د اصل او د بشر د شخصیت د درناوی نقض کوونکي دي او دهیواد په سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي ژوندکې له نارینه و سره په برابرو شرایطو د ګډون او برخې اخیستنې د مخنیوی سبب ګرځي. دټولنې او کورنۍ د بریالیتوب او سوکالۍ مخه نیسي او دهیواد او بشریت ته دخدمت په لار کې د ښځو د استعدادونو د غوړیدنې، بشپړتیا او پیاوړتیا له ستونزو سره مخامخ کوي او دې ته هم په کتنه او اندیښنې سره چې ښځې دفقر او بیوزلۍ په شرایطو کې لږ تر لږه غذایي موادو، روغتیا، زده کړو او تحصیلاتو د استخدام امکاناتو او نورو ته اړتیا لري.

په دې عقیده چې دنوي نړیوال اقتصادي نظام تشکیل د مساوات او عدالت په بنسټ د ښځو او نارینه و ترمینځ د حقوقو د برابرۍ په لارو چارو کې مهم نقش تر سره کوي او په دې باندې په تأکید او ټینګار سره چې د اپارتاید، نژاد پالنې د بیلا بیلوبڼو، نژادي تبعیض، استعمار، نوي استعمار، تیري، اشغال، سلطې او ددولتونو په کورنیو چاروکې د لاس وهنې دریښو دغو څولو، رایستلو او دښځو او نارینه و له حقوقو څخه دهغوی د برخمن کیدو په کارکې اساسي او بنسټیز رکن دی. او په دې باندې په تأکید او ټینګار سره چې د نړیوالې سولې او امنیت د

ټینګښت، دهیوادونو ترمینځ د تشنج او کړکیچ دختمولو، داقتصادي او اجتماعي سیسمتونو له په پام کې نیولو پرته دهیوادونو ترمینځ ددوه اړخیزو مرستو او همکاریو، عمومي او بشپړ بې وسلې کولو، په ځانګړې توګه ترنړیوال کلک او موثر کنترول لاندې اټومي بې وسلې کولو دعدالت او مساوات داصولو تائید، دهیوادونو ترمینځ په اړیکو کې متقابلې ګټې، تو استعماري سلطې لاندې دخلکو حقه حقوق، دبهرني اشغال په وړاندې استقلال او خپلواکي او همدارنګه ملي حاکمیت ته درناوی، ځمکنی تمامیت، دودې او ټولنیز پرمختګ سبب کیږي او په نتیجه کې د ښځو او نارینه و ترمینځ دحقوقو د برابرۍ سبب ګرځي، او پردې عقیده چې دیوهیواد بشپړه وده، نړیواله سوکالي او دسولې ټینګښت له پاره په ټولو برخو کې له نارینه و سره د ښځو په برابرو شرایطو ګډون لازم او ضروري دی.

ددې په پام کې لرنې سره چې دکورنۍ د سوکالۍ او دټولنې د پرمختګ په کارکې دښځو ستره ونډه اخیستنه چې تر اوسه پوره نه ده پیژندل شوی، په کورنۍ کې دمورټولنیز اهمیت او دماشومانو په روزنه او پالنه کې دوالدینو نقش او له دې څخه په خبرتیا او پوهیدنې سره چې په اولاد زیږونه کې باید دښځو نقش د تبعیض اساس او بنسټ نه وي، دماشومانو روزنه او تربیت مسوولیت په کلي توګه د ښځو، نارینه و اوټولنې ترمینځ ویش ته اړتیا لري.

له دې څخه په خبرتیا سره چې په ټولنه او کورنۍ کې دښځو او نارینه و له معمولي نقش څخه هر ډول تعبیر دښځو او نارینه و ترمینځ دحقوقو د برابرۍ غوښتونکی دی.

تصمیم نیول شوی چې دښځو په وړاندې دتبعیضونو دله مینځه وړلو په اعلامیې پورې اړوند اصول تر اجرأ لاندې ونیسي نو په دې منظور یې دهغې دټولو ډولو دله مینځه وړلو له پاره اقدامات رامینځه کړي او په لاندې شرح یې توافق کړی دی:

**لومړۍ ماده:**

د((ښځو په وړاندې تبعیضونه)) اصطلاح په دې کنوانسیون کې د جنسیت پربنسټ په هر ډول توپیري وجه باندې دقایل کیدو، په استثنا یا محدودیت باندې دقایل کیدو په معناده چې دښځو د اساسي آزادیو په رسمیت پیژندلو، دګټې اخیستلو دحق او دهغو په هکله د بشر د حقوقو رعایت په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي او نورو برخو کې دهغوی دتأهل حالت ته له کتنې او توجه پرته او دښځې او نر دحقوقو مساوات ته زیان او نقصان ورسوي.

**۲ماده:**

غړي دولتونه دښځو په وړاندې تبعیضونه چې په هره بڼه وي محکوموي او موافقه کوي چې بې له ځنډه او په لازمه مولارو چارو د ښځو په وړاندې د تبعیضاتو د رفع کولو او له منځه وړلو سیاست په مخکې ونیول شي او په همدې منظور ددې لاندې مسایلو په برخه کې ژمنه او تعهد کوي:

**الف:** په اساسي قانون او یا دهر هیواد په نورو اړوندو قوانینو کې د ښځې او نر د برابرۍ خایول چې تر اوسه نه وي منظور شوي او هم ددغه اصل له تحقق څخه ډاډ حاصلول دقانون په وضع کولو او یا نورو لازمو لارو چارو سره.

**ب:** دقانوني تدابیرو او یا نورو رامینځته کول، له هغې جملې څخه د ضرورت په صورت کې د تحریم اعمال د ښځو په وړاندې د تبعیضونو دکارولو د مخنیوي په منظور.

ج: له نارینه و سره د برابرۍ د شرایطو پر اساس دښځو له حقوقو څخه قانوني ملاتړ او دتبعیضونو پر ضد له ښځو نه د موثر ملاتړ او حمایت څخه د صلاحیت لرونکو ملي مراجعو او نورو دولتي قضایي موسسو له لارې ډاډ تر لاسه کول.

د: دښځو پرضد دهر ډول عمل دسرته رسولو اويا دهغوی په هکله له تبعیضونو نه کار اخیستلو څخه ډده کول او له دې څخه ډاډ حاصلول چې دولتي مقامات او موسسې به له خپلو ژمنو سره سم عمل وکړي.

ه: دهر وګړي (فرد) سازمان یا شرکت په واسطه دښځو په وړاندې د تبعیضونو دله منځه وړلو له پاره اقدام کول. دلازموتدبیرونو نیول له هغې جملې څخه د پیژندل شولو قوانینو او مقرراتو جرح او تعدیل یا فسخ کولو په منظور دقوانینو وضع کول چې د ښځو په وړاندې د تبغیض دکارولو سبب ګرځي.

ز: دهغو ټولو جزايي مقرراتو فسخ کول چې د ښځو پرضد تبعیضونه پکې موجود وي.

## ۳ ماده:

غړي دولتونو په ټولو برخو، په ځانګړې توګه په سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي برخو کې ټول لازم اقدامات. له هغې جملې څخه د ښځو د بشپړ پرمختګ او ودې په منظور قوانین وضع کوي. ترڅو د بشر دحقوقو د اجراء کولو او له نارینه و سره د برابرۍ پر بنسټ له اساسي آزادیو څخه ګټه اخیستنه تضمین شي.

## ٤ ماده:

۱-دغړیو هیوادونو له خوا دځانګړو موقتي تدبیرونو رامینځته کول چې هدف یې د ښځو او نارینه و ترمینځ ددو وفکتورونو چټکتیاوي ددغه کنوانسیون دتعریف په اساس باید ((تبعیض)) تلقي نه شي. مګر په هیڅ وجه به د بیلو او نا برابرو ستندردونو ساتنه ډیوې لاس ته راوړنې او پیامد په عنوان له ځان سره ونلري

دغه اقدامات به د برابرو فرصتونو او چلند له تحقق څخه وروسته متوقف شي

۲-دغړیو دولتونو له خوا دځانګړو تدبیرونو رامنځته کول، دهغو اقداماتو له جملې څخه دي چې په دغه کنوانسیون کې دمیندو دساتنې او حمایت له پاره نیول کیږي، هغه باید تبعیض ناک ونه ګڼل شي.

### ٥ ماده:

غړي دولتونه لاندې لازم اقدامات ترسره کوي:

**الف:** دنارینه او ښځینه ټولنیز(اجتماعي) او فرهنګي سلوک د نمونو بدلون. دتعصبونو او هغو عنعنوي روشونو دله منځه وړولو په منظور چې د ټیټ ګڼلو او یا لوړګڼلو د طرزفکر او یا دښځو او نارینه و له پاره د کلیشه یي نقشونو پربنسټ ولاړوي.

**ب:** له دې څخه ډاډ حاصلول چې دکورنی تربیت، دموردټولنیزې دندې صحیح درک او دماشوم په روزنه او پالنه کې د ښځې او نر مشترک مسوولیت پیژندل شامليږي، دماشوم ګټې په ټولو مواردو کې لومړیتوب لري.

### ٦ ماده:

غړي دولتونه ټول اقدامات، له هغې جملې نه له ښځو څخه دسؤ استفادې او استثمار دمخنیوي په منظور قوانین وضع کوي.

### ۷ماده:

غړي دولتونه به دښځو په وړاندې دهیواد په سیاسي او ټولنیز ژوندکې د تبعیضونو دله منځه وړلوله پاره قوانین وضع کوي. په ځانګړي توګه به له نارینه وَ سره په برابرو شرایطو دا لاندې حقوق ښځو ته ورکوي:

**الف:** په انتخاباتو او عمومي نظر غوښتنو کې د ګډون او په ټولو وګړنیرو منتخبو ارګانونو کې د هغوي انتخابیدو د صلاحیت لر لوحق.

ب: ددولت د سیاست په ټاکلو او اجرأتو کې د ګډون او ددولت په سطح دټولو عمومي دندو د سرته رسولو حق.

ج: په غیر دولتي ټولنو او سازمانونو کې چې د هیواد له سیاسي او ټولنیز ژوند سره اړیکي ولري، دګډون حق.

**۸ ماده:**

غړي دولتونه به لازم اقدامات وکړي، ترڅوله هر ډول تبعیض څخه پرته له نارینه و سره په برابرو شرایطو ښځوته دا فرصت ورکړل شي چې خپل دولت په نړیواله سطحه معرفي کړي او په نړیوالو سازمانونو کې نقش ولري.

**۹ ماده:**

۱-غړي دولتونه به ښځوته له نارینه وسره برابر دخپل ملیت د تر لاسه کولو، ساتلو یا بدلولو حق ورکوي. غړي دولتونه په ځانګړي توګه تضمینوي چې د بهرني هیواد له وګړي سره په دواده کولو او یا دواده په روان کې دژوند د ملګري(میړه) د ملیت بدلول پخپله د ښځې د ملیت د بدلون اویا په جبري ډول د میړه د ملیت د منلو سبب نه ګرځي.

۲-غړي دولتونه به دماشومانو د ملیت په برخه کې ښځو ته له نارینه وُ سره برابر حقوق ورکړي.

**۱۰ ماده:**

غړي دولتونه به ټول لازم اقدامات وکړي، تر څو دښځو په وړاندې د تبعیضونو دله منځه تللو، دزده کړې، زوزنې او پالنې په برخه کې د ښځو او نرو ترمینځ برابر حقوق، په ځانګړې توګه په دې لاندې مواردو کې د ښځه او نر د برابرۍ پر بنسټ هغوی ته ورکړل شي:

الف: دنارینه و سره په برابرو شرایطو ددندې او حرفې په برخه کې د زده کړې د ټولو ځانګو له مؤسساتو څخه، په کلیو کې وي او که په ښارونو کې. د تحصیلي مدارکو د اخیستلو له پاره. دغه برابري له ښوونځی څخه د مخکې دورې، عمومي، فني، حرفه یي او لوړو مسلکي زده کړو په دوروکې هم شامله ده.

ب: دزده کړې په پروګرامونو، آزموینو او دزده کړې په کدر، چې مشابه ځانګړنې او ستندردونه ولري، ددسترسی امکان. او هم یې باید د ښوونځې ودانۍ او لوازم له هماغه کیفت نه برخمن وي.

ج: دګډې زده کړې او د زده کړې دنورو ډولونو د تشویق له لارې چې دې هدف ته رسیدل ممکنوي په ټولو سطحو کې د ښځو او نرو د کلیشه یي مفهوم له مینځه وړل. په ځانګړې توګه د ښوونځیو د درسي کتابونو او دزده کړې د پروګرامونو دنوې کتنې او تجدید نظر له لارې.

د: دمشابه تحصیلي بورسونو او ښیګڼو له امکاناتو څخه استفاده.

هـ: د زده کړو دسرته رسولو د اړوندو پروګرامو پوښان والی، له دې جملې څخه دلویانو له پاره دعملي سواد زده کړې پروګرامونه او په ځانګړې توګه هغه پروګرامونه چې هدف یې دښځو او نارینه ترمینځ دزده کړې دپوړ او اندازې توپیر په ډیرې چټکۍ سره راکموي.

و: دهغو نجونو دشمیر راکمول چې زده کړه پریږدي او هم دهغو نجونو او ښځو له پاره پروګرامونه جوړول چې دمخه یې زده کړه پر ایښې وي.

ز: د بدني روزنې او زده کړې په چارو کې د ښځو دفعال ګډون له پاره مشابه امکانات.

ح: دځانګړو ښوونیزو روز نیزو اطلاعاتو او معلوماتو تر لاسه کول. چې دکورنۍ روغتیا او سلامتي تضمینوي، له دې جملې څخه دکورنۍ جوړولو او برنامه ریزۍ په هکله اطلاعات او پیشنهادونه.

PROPERTY OF ACKU

## ۱۱ ماده:

۱-غړي دولتونه به ټول لازم اقدامات ترسره کړي. ترڅو ددندې او کسب په برخه کې دښځو په وړاندې هرډول تبعیض له منځه ولاړشي او دښځو او نارینه و ترمینځ د حقوقو د برابرۍ پربنسټ دهغوله پاره مشابه حقوق تضمین شي. په ځانګړې توګه په دې لاندې مواردوکې:

**الف:** دکار داشتغال حق دبشري افرادو دنه جلا کیدونکي حق په توګه

**ب:** ددندې او شغل له مشابه امکاناتو څخه د استفادې حق. له دې جملې څخه ددندې دانتخاب په برخه کې دیو دول ضوابطو رعایت

**ج:** ددندې او پیشې د انتخاب آزادانه حق. دمقام دلوړتیا او ارتقاء حق له کاري او شغلي امنیت او هم له ټولو شغلي امتیازاتو او شرایطو څخه برخمني او دحرفه یي او بیا زده کړې له دورو څخه د استفادې حق. له دې جملې څخه دکار دزده کړې او پرمختللې حرفه یي زده کړې او مرحله یي زده کړې په دوروکې ګډون

**د:** دبرابرې اجورې ترلاسه کول او همدارنګه ددندې او مشغلې چې له برابر ارزښت نه برخمنه وي. له امتیازاتو څخه استفاده او هم دمشابه کار په ارزیابۍ کې یو ډول قضاوت

**هـ:** له ټولنیزو او اجتماعي بیمو څخه د استفادې حق. په ځانګړې توګه د تقاعد. بیکارۍ. ناروغۍ او دزړښت دناتوانۍ او نورو له کاره دوتلو په وختونوکې او همدارنګه له استحقاقي رخصتۍ څخه د استفادې حق

**و:** دروغتیایي اصولو د رعایت حق. دخپلې روغتیا ساتنې او دکار په محیط کې دروغتیایي پاملرنې رعایت. په داسې ډول چې دحمل او امیدوارۍ په دوران کې دهغوی تندرستي تضمین شي او دهغو روغتیاته زیان ونه رسیږي

۲-دواده، حمل او امیدوارۍ په وخت کې دښځو په وړاندې د تبعیضي اعمالو دمخنیوي او دکار له پاره دهغوی د مسلم حق د تضمین په منظور به غړي دولتونه دالاندې اقدامات وکړي:

**الف:** دحمل یا امیدوارۍ یا ولادت درخصتۍ په دلیل د اخراج ممنوعیت او په اخراج کې تبعیض دواده دګډژوند د وضعیت په اساس، چې له دې صورت نه په غیر پکې دمجازاتو تحمیل شامیلیږي.

**ب:** د اولادزیږونې درخصتۍ داجازې صدور له حقوقو یا مشابه اجتماعي امتیازاتو سره پرته د مخکیني کار، دندې او اجتماعي امتیازاتو له لاسه ورکولو څخه.

**ج:** دټولنیزو لازمو خدمتونو دسرتر رسولو له پاره تشویق او هڅونه، په داسې ډول چې والدین وکړای شي کورني تعهدات له کاري او شغلي مسوولیتونو سره همآهنګ کړي. په ځانګړې توګه دماشومانو دساتنې او څارنې له پاره د اسانتیا وو برابرول چې وکړای شي په ټولنیز ژوندکې ګډون وکړي.

**د:** دحمل او امیدوارۍ په وختونو کې دښځو حمایت او ژغورنه، له داسې دندو او کارونو څخه چې ثابته وي چې هغوی ته زیان رسوي.

۳- په دې ماده کې یادشوي حمایت کوونکي قوانین به په متناوبه توګه دعلمي او تکنالوژیکي پوهې او معلوماتو سره یوځای ترغور او څیړنې لاندې نیول کیږي او دلزوم په صورت کې به دغه قوانین بیا چاپ، لغوه او یا تمدید شي.

## ۱۲ ماده:

۱-غړي دولتونه به دروغتیا ساتنې په برخه کې دښځو په وړاندې د تبعیضونو دله منځه وړلو له پاره ټول لازم اقدامات ترسره کړي، ترڅو هغوی ته روغتیایي خدمتونه، له دې جملې څخه هغه خدمتونه ترلاسه شي چې په کورنۍ ژوند او

پروګرام پورې مربوطيږي، او دښځو او نارينه و ترمينځ د برابرۍ درعايت پر بنسټ ممکن وي.

۲-غړي دولتونه به ددې مادې د لومړي پاراګراف له مخې دحمل او اميدوارۍ په دوران، اولاد زيږونې او له هغې څخه په وروسته وخت کې لازم خدمات وړاندې کړي او دلزوم په صورت کې به وړيا خدمتونه دهغوی په واک کې ورکړي او هم به هغوی دحمل، اميدوارۍ او شيدې ورکولو په دوران کې له مناسبو خوړو او غذا څخه برخمنې کړي.

## ۱۳ ماده:

غړي دولتونه به د اقتصادي او ټولنيز ژوند په نورو برخو کې دښځو په وړاندې د تبعيضونو دله مينځه وړلو له پاره ټول لازم اقدامات ترسره کړي، ترڅو چې دښځو او نارينه و ترمينځ د حقوقو د برابرۍ داصل له مخې، په ځانګړې توګه دا لاندې موارد رعايت شي:

**الف**: دکورنۍ له امتيازاتو څخه د استفادې حق.

**ب**: دبانکي، رهني او دمالي اعتباراتو له نورو ډولونو څخه داستفادې حق.

**ج**: په تفريحي فعاليتونو، بيلابيلو ورزشي ځانګو او دفرهنګي ژوند په ټولو برخوکې د ګډون حق.

## ۱٤ ماده:

غړي دولتونه دکليوالو ښځو ځانګړو مشکلاتو اوستونزو ته پاملرنه کوي او هغه مهم نقش ته چې دغه ښځې يې دخپلو کورنيو داقتصادي رفاه او سوکالۍ، له دې جملې څخه داقتصاد په غير مالي برخوکې په غاړه لري، خپله ځانګړې پاملرنه ور اړوي او ټول لازم اقدامات به ترسره کړي، ترڅو ددغه کنوانسيون اصول دکليوالو ښځو په برخه کې په عمل کې پلي او ترسره شي.

۲-غړي دولتونه به دښځو په وړاندې دتبعيضونو دله منځه وړلو له پاره ټول لازم اقدامات ترسره کړي. ترڅو دغه ښځې له نارينه وسره دښځو دحقوقو د برابرۍ پر بنسټ په کليوالو عمراني پروګرامونو کې ګډون وکړي. له هغې څخه ګټه واخلي او په ځانګړې توګه له دې لاندې حقوقو څخه برخمنې شي:

**الف:** په ټولو سطحوکې دعمراني پروګرامونو په بشپړتيا او سرته رسولوکې ګډون.

**ب:** دپوره روغتيايي اسانتياوو ترلاسه کول، له دې جملې څخه دکورنۍ په تنظيم کې، اطلاعات، معلومات، مشورې او خدمتونه.

**ج:** دټولنيزې بيمې له پروګرام څخه مستقيمه استفاده.

**د:** درسمي او غير رسمي زده کړو له ټولو دورو څخه استفاده. له دې جملې څخه عملي سواد زده کړه او همدارنګه دهغوی دفني او مسلکي پوهې دلوړولو له پاره له خدماتو او امکاناتو څخه استفاده.

**ه:** د انتفاعي ډلو او اتحاديو تشکيلول، دبرابرو اقتصادي امکاناتو د ترلاسه کولو په منظور، يعنې د آزادو او دولتي دندو او مشغلو تر لاسه کول.

**ز:** دکرنيزو اعتباراتو، بازاريابۍ اسانتياوو او مناسبې ټکنالوژۍ ترلاسه کول او له ځمکې، اصلاحات اراضي او پرځمکه داسکان مجدد له طرحو څخه برابره استفاده.

**ح:** دژوند له وسايلو څخه مناسبه ګټه اخيستنه، په ځانګړې توګه دکور، روغتيايي وسايلو، اوبو او برښنا، ارتباطاتو او حمل و نقل له وسايلو څخه.

## ۱۵ ماده:

۱-غړي دولتونه به له قانون څخه په استفادې ښځوته له نارينه وسره برابر حقوق ورکوي.

۲-غړي دولتونه به په مدني مسایلو کې ښځوته له نارینه وسره برابر قانوني اهلیت ورکوي، ترڅو چې ښځې دمشابه امکاناتو په پام کې نیولو سره له دغه اهلیت څخه استفاده وکړي. غړي دولتونه په ځانګړې توګه ښځو ته له نارینه وسره یوشان حقوق ورکوي، چې هغوی وکړای شي قرار داد وکړي. دځپل ملکیت اداره وکړي او په ټولو محاکمو کې دنارینه وسره له برابرو حقوقو څخه برخمنې شي.

۳-غړي دولتونه موافقه کوي چې ټول قراردادونه او نور خصوصي اسناد چې دښځې قانونی اهلیت محدودونکی اجرائیوي قدرت لري، کان لم یکن تلقي او وګڼل شي.

۴- غړي دولتونه د افرادو نقل مکان، دقانون او استوګنې ځای د آزادانه ټاکنې دحق دقانون په پام نیولو سره ښځوته له نارینه و سره برابر حقوق ورکوي.

## ۱۶ ماده:

غړي دولتونه به دښځو په وړاندې دتبعیضونو دله منځه وړلو په منظور دواده او کورنۍ د اړیکو په برخه کې ټول لازم اقدامات ترسره کوي، ترڅو دښځو او نارینه و دحقوقو د برابرۍ اصل، په ځانګړې توګه په دې لاندې برخو کې مراعات شي:

**الف:** دواده له پاره مشابه حق.

ب: دژوند دملګري په انتخاب کې مشابه حق او دهغو په پوره رضایت سره واده کول.

ج: دګډ ژوند او له جلاکیدو وروسته ژوند په دوران کې مشابه حقوق او تعهدات

د: دوالدینو په توګه مشابه- یوشان حقوق او مسوولیتونه، صرف نظر دګډژوند دروابطو او اړیکو له وضع څخه، په هغو مسایلو کې چې دهغو په اولادونو پورې اړوندیږي. په ټولو مواردو کې ماشومان له لومړیتوب نه برخمن دي.

ه: د اولادو دشمیر او دحمل د زماني واټن په هکله د آزادانه او خپلواکې تصمیم نیونی په برخه کې مشابه حقوق. او د لازمه معلوماتو، زده کړې او هغو مسایلو څخه استفاده چې له دغه ډول حقوقو څخه د برخمن کیدو لارې چارې برابروي.

و: دقیمومیت، خضانت، سرپرستۍ او په اولادنیولو (داولاد خوانډګی) په برخه کې مشابه حقوق او مسوولیتونه او یا دمشابه دستور العملونو او کړنلارو څخه استفاده چې دنومړي قانون په موجب په هغې کې پیش بیني شوي دي. ماشومان په ټولو مواردوکې له لومړیتوب نه برخمن دي.

ز: دښځې او میړه له پاره مشابه فردي حقوق، له هغې جملې څخه دکورني نوم د انتخاب حق، دکار او حرفې د انتخاب او ټاکنې حق.

ح: دمالکیت، اکتساب، مدیریت، سرپرستي، ګټې اخیستنې او ملکیت په واک کې لرلو په بنسټ، هغه وړیا وي او یا که پانګه ولري، دزوجینو له پاره مشابه حقوق.

۲-د اولاد کوژدن (نامزدي) او واده دقانون له نظره اجرائیوي قدرت نه لري او ټول ضروري اقدامات له هغې جملې څخه دواده له پاره د لږ ترلږه مناسب عمر دَ ټاکنې له پاره باید قانون وضع شي. او واده باید په رسمي دفترونوکې ثبت شي.

## ۱۷ ماده:

ددغه کنوانسیون دموادو د اجراء کیدو د پرمختګونو په پام کې نیولو، غور اوڅیړنې په منظور به دښځو په وړاندې د تبعیضونو د له مینځه وړلو کمیټه (چې له دې څخه وروسته کمیټه ویل کیږي) تشکیل شي.

دغه کمیټه دکنوانسیون دلازم الاجرا کیدوله نیټې نه، له اتلسو غړیو څخه له کنوانسیون سره د پنځه دیرشم دولت له یوځای کیدو او تصدیق څخه وروسته او د رویشت تنو کار پوهانو چې له صلاحیت لرلو برسیره د کنوانسیون پورې په اړوندغوره اخلاقو مشهور وي، تشکیلیږي. کارپوهان دغړي دولت او هیواد له اتباعو څخه ټاکل کیږي او پخپل شخصي سمت کې خدمت کوي. ددغه اشخاصو په ټاکنه کې به عادلانه جغرافیایي ویش او دتمدن دبیلابیلو اشکالو موجودیت او هم دحقوقي نظامونو اصل ته پاملرنه کیږي.

۲-دکمیټې غړي دغړیو دولتونو پواسطه د پټو رایو له لارې او دکاندیدانو له مینځ څخه ټاکل کیږي. هرغړی دولت کولی شي یوتن له خپلو اتباعو څخه نامزد کړي.

۳-لومړني انتخابات به ددغه کنوانسیون له اجراء څخه شپږ میاشتې وروسته تر سره شي. لږ تر لږه درې میاشتې دهرو انتخاباتو له نیټې څخه دمخه د ملګرو ملتونو عمومي منشي دیو لیک په ترڅ کې له غړي دولت څخه غواړي چې په دو ومیاشتو کې خپل کاندیدان ورمعرفي کړي.

سرمنشي دکاندیدانو او غړیو دولتونو فهرست د الفبا په ترتیب تهیه کوي او غړیو دولتونو ته یې لیږي.

۴-دکمیټې د غړیو انتخابات د ملګرو ملتونو د سرمنشي په ریاست ددغه سازمان په ودانۍ کې دغړیو دولتونو څخه په تشکیل شوې غونډه کې ترسره کیږي.

په دې غونډه کې چې دهغې دتشکیل دنصاب حد دغړیودولتونو استازیو دوه په درې حضور دی، باید داسې اشخاص انتخاب شي چې زیات شمیر رأی او په غونډه کې دغړیو دولتونو دحاضرو استازیو مطلق اکثریت رأی یې ترلاسه کړي وي.

۵-دکمیټې غړي دیوې څلور کلنې دورې له پاره ټاکل کیږي. که څه هم په لومړنیو انتخاباتو کې له منتخبو غړیو څخه د ۹ تنو د غړیتوب دوره له دووکالو څخه وروسته پای ته رسیږي، خوپرته له ځنډه له لومړیو انتخاباتو څخه وروسته ددغو ۹ تنو غړیو نومونه به د پچې په وسیله دکمیټې درئیس له خوا اعلان شي.

٦-دکمیټې د پنځو تنو نورو غړیو انتخاب به ددې مادې له ۲-۳ او ۴ پرګراف له حکم سره سم د پنځه دیرشم تصدیق یا یوځای کیدنې(الحاق) سره تر سره شي. دپورتنیو دو وتنو غړیو د غړیتوب دوره به ددو وکالو په پای کې ختمه شي او ددغو ددوتنو نومونه به پچې پواسطه دکمیټې درئیس له خوا اعلان شي.

۷-د دولتي احتمالي بلا متصدي پست د اشغال له پاره چې کارپوه دکمیټې دغړي په نوم ددندې په سرته رسولو بوخت نه وي، بل کارپوه به دکمیټې په تائید له خپلو اتباعو څخه و ټاکي.

۸-دکمیټې غړي دعمومي غونډې په تائید او دهغې غونډې دضوابطو، مقررې او شرایطو سره سم دکمیټې دمسوولیتونو د اهمیت په پام کې نیولو سره دملګروملتونو له سازمان څخه مقرري ترلاسه کړي.

۹-دملګروملتونو سرمنشي به تر دغه کنوانسیون لاندې دکمیټې ددندو داغیزمنې سرته رسولو له پاره لازم اقدامات او اسانتیاوې را مینځته کړي.

## ۱۸ ماده:

۱-غړي دولتونه دا قبلوي چې ددغه کنوانسیون له اصولو سره سم دکمیټې د تضمیني، قضایي او اجرائیوي کړنو دغورا وخیړنې په برخه د ملګرو ملتونو سرمنشي ته په دې لاندې شرح ګزارش او ریپوټ وړاندې کړي:

الف: دمربوطه دولتونو له پاره له لازم الاجراء کیدو څخه وروسته په یوکال کې دګزارش تهیه کول.

ب: له هغې وروسته لږ تر لږه په هروڅلوروکلونو کې او دکمیټي دغوښتنې په صورت کې له څلورو کالو څخه مخکې.

۲-دا ګزارشونه دهغو مسایلو او مشکلاتو څرګندونکي او ښکارندوی وي چې ددغه کنوانسیون په تعهداتو او دندو باندې اغیزه کوي.

## ۱۹ ماده:

۱-کمیټه خپله داخلي نظامنامه تصویبوي.

۲-کمیټه خپل کار کوونکي دیوې دوه کلنې دورې له پاره ټاکي.

## ۲۰ ماده:

۱-کمیټه دهغو ګزارشونو دغور او څیړنې له پاره چې ددې کنوانسیون له ۱۸ مادې سره سم وړاندې کیږي، هرکال غونډه کوي چې له دوو اوونیو څخه زیات وخت نه نیسي.

۲-دکمیټې غونډې عموماً دملګرو ملتونو په ودانۍ او یا په بل هرمناسب ځای کې چې هغه دکمیټي په غوښتنه ټاکل کیږي، جوړیږي.

## ۲۱ ماده:

۱-کمیټه هر کال د اجتماعي او اقتصادي شورا له لارې دخپلو فعالیتونو په هکله راپور عمومي غونډې ته ورسپاري او دغړیو دولتونو د رارسیدلو اطلاعاتو او ګزارشونو په اساس کلي پیشنهادونه او توصیې وړاندې کوي. دغه کلي پیشنهادونه او توصیې دغړیو دولتونو له احتمالي نظریاتو سره دکمیټې په ګزارش کې درج کیږي.

۲-سرمنشي دکمیټې ګزارشونه دښځو د وضعیت کمیسیون ته د اطلاع او خبرتیا له پاره لیږي.

## ۲۲ ماده:

تخصصي آژانسونه کولی شي دخپلو فعالیتونو په محدوده کې ددې کنوانسیون دچارو ترسره کول وڅاري. کمیټه کولی شي تخصصي آژانسونو ته بلنه ورکړي چې دکمیسیون دهغو کارونو دڅرنګوالي په اړه چې ددوی دفعالیتونو په حوزې پورې مربوطیږي، ګزارشونه او رپوټونه وړاندې کړي.

## ۲۳ ماده:

هر عامل چې په دې کنوانسیون کې دښځو او نارینه د حقوقو د برابرۍ د اصل دژر ترلاسه کیدو په سبب اغیزمن وي. نوموړی عامل امکان لري په لاندې مواردو کې وي:

الف: دیوغړي دولت په قانون جوړونه کې.

ب: په هر بل کنوانسیون کې، بین المللي لازم الاجرا تړون یا قرار دادکې، دهغه دولت له پاره.

## ۲٤ ماده:

غړی دولت ژمنه (تعهد) کوي چې په ملي سطح لازم اقدامات، چې له هغو څخه هدف بشپړ حقوقي تحقق دی، او په دې کنوانسیون کې په رسمیت پیژندل شوي وي، ترسره کړي.

## ۲۵ ماده:

۱-دغه کنوانسیون دټولو هیوادونو دلاسلیک له پاره پرانیستی دی.

۲-دملګرو ملتونو سر منشي ددغه کنوانسیون د امانتدار په توګه ټاکل شوی دی.

۳-ددې کنوانسیون رسمیت په تصدیق پورې تړلی دی. دتصدیق اسناد د ملګرو ملتونو له سرمنشي سره په امانت ایښودل شوي دي.

۴-دغه کنوانسیون دټولو هیوادونو دالحاق او یو ځای کیدو له پاره پرانیستی دی، د الحاق او یو ځای کیدنې سند باید د ملګرو ملتونو سرمنشي ته وسپارل شي.

## ۲۶ ماده:

۱-غړي دولتونه کولی شي هروخت دکړنلارې او پروګرام له مخې دملګرو ملتونو دسرمنشي په نوم غوښتنلیک وړاندې کړي چې دغه کنوانسیون ته نوې کتنه وشي.

۲-دملګروملتونو عمومي غونډه به ددغه غوښتنلیک په برخه کې داحتمالي اقداماتو په اړه تصمیم ونیسي.

## ۲۷ ماده:

۱-دغه کنوانسیون له هغه نیټې څخه دیرش ورځې وروسته چې د تصدیق شلم سند یا دهغې الحاقیه د ملګرو ملتونو له سرمنشي سره په امانت کیښودل شي، لازم الاجرا ګرځي.

۲-دتصدیق دشلم سند یا الحاقیه له ودیعه سپارلو څخه وروسته، هر دولت چې دغه کنوانسیون تصدیقوي یا له هغه سره یو ځای او الحاق کیږي، نوموړی کنوانسیون دیرش ورځې له هغې نیټې څخه وروسته چې دغه دتصدیق یا یوځای کیدنې سند په امانت ایښودل شوي دی، لازم الاجراء ګرځي.

## ۲۸ ماده:

۱-دملګرو ملتونو سرمنشي ددولتونو له تحفظاتو د ترلاسه کولو څخه وروسته دهغوی تصدیق یا یوځای کیدنه او الحاق دټولو دولتونو په واک کې ورکوي.

۲-هغه تحفظات چې ددغه کنوانسیون له هدف او مرام سره سمون ونه لري، نه منل کیږي.

۳-هر کله چې دغه تحفظات دمنلو وړوګرځي باید سرمنشي ته اعلان شي چې هغه وروسته مراتب ټولو دولتونو ته خبرورکوي. دغسې تحفظات به دله ترلاسه کیدوسره سم داجراء وړوګرځی.

**۲۹ ماده:**

ددغه کنوانسیون د تفسیر یا اجراتو په اړه هر ډول اختلاف ددوو دولتو نو یاډیرو غړیو ترمینځ چې د مذاکراتو او خبرو اتروله لارې حل نشي، له طرفینو څخه دیوه په غوښتنه حکمیت ته راجع کیږي. که چیرې د محکمې دتشکیل غوښتنلیک له نیتې څخه په شپږ میاشتې وروسته موده کې طرفین دهغې دتشکیل په اړه توافق ته ونه رسیږي، یوله طرفینو څخه کولی شي غوښتنه وکړي چې موضوع دې نړیوالې محاکمې ته ددغه محاکمې له اسنا سنامې سره سمه راجع شي.

۲-هر غړی دولت کولی شي ددغه کنوانسیون دتصدیق یا الحاق دلاسلیک په وخت کې اعلان کړي چې خپل ځان ددغې مادې دلومړي پرګراف په اجراء مؤظف نه ګڼي، نورغړي دولتونه د هر غړي دولت تحفظاتو ته په پاملرنه په دې برخه کې دپورتني پرګراف په رعایت ملزم نه دي.

۳-هر غړی دولت چې ددې مادې له دویم پرګراف سره سم یې تحفظات تر سره کړي وي، کولی شي چې هروخت د ملګرو ملتونو سرمنشي ته اعلان کړي چې له دغه تحفظاتو څخه یې صرف نظر کړي دی.

**۳۰ ماده:**

دغه کنوانسیون چې عربي، چیني، انګلیسي، فرانسوي، روسي او اسپانوي متنونه یې دیو ډول اعتبار او باور وړدي، دملګرو ملتونو له سرمنشي سره په امانت اینښودل کیږي.

CEDAW

On the Occasion of 8 March 2002

# دښځو په وړاندې دټولو تبعیضونو دله منځه وړلو کنوانسیون

د۱۹۷۹ د دسمبر په ۱۸

دملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې تصویب شوی

دمرکز تعاون افغانستان (متا) له خپرونو څخه